شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

سه شنبه | د رمضان المبارک ۲۰-۱۴۴٤/ د وري ۲۲-۱۴۰۲/ د اپریل ۱۱-۲۰۲۳/ لومړی کال / ٤٥ گڼه/ ٤ مخیز ۱


**هموطنان عزیز!**

پرداخت داوطلبانه مالیات، گامی به سوی خودکفایی کشور بوده و عواید مالیاتی برای پرداخت مزد و معاش معلمین، داکتران و نیروهای امنیتی تان به مصرف میرسد؛ لذا با پرداخت نمودن مالیات وجیبه ملی خویش را ادا نمائید.

# د ماليې وزارت د (۱۴۰۱) کال د لاسته راوړنو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس د رسنيو په مرکز کې ترسره سو



د ماليې وزارت د (۱۴۰۱) کال د لاسته راوړنو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس د دغه وزارت د لوړ پوړو مسؤلينو او استازو په ويناوو د رسنيو په مرکز کې ترسره سو. په دغه کنفرانس کې د گمرکونو لوی رئيس مفتي عبدالمتين سعيد، د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود، د عوايدو عمومي رياست عملياتي مرستيال معراج محمد معراج او د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس احمد ولي حقمل گډون کړی و. لومړی د ماليې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس او وياند احمد ولي حقمل د هيواد د رسنيو استازو او گډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنگ وويل: ماليې وزارت له ټولو اقتصادي او سياسي ستونزو او پر افغانستان د نړيوالي ټولني له ظالمانه بنديزونو سره - سره بيا هم وکولای سول، چې يوازي د هيواد له کورنيو عوايدو څخه ملي بوديجه چمتو او شته گواښونه تر ډېره بريده حل کړي او هغه کسر، چې د (۱۴۰۱) کال په بوديجه کې موجود و، د غير ضروري لگښتونو د مخنيوي په سپما کې بشپړ کړي.

پاتې برخه يې دوهم مخ کې...

**د ۱۴۰۲ مالي کال لومړۍ حواله د ماليې وزارت د کفيل الحاج ملا محمد ناصر اخند له لوري تېره ورځ (۲۰/۱/۱۴۰۲) اجراء سوه؛**

د لومړۍ حوالې له اجراء سره سم، د ماليې وزارت له لوري لومړی د حمل د مياشتي او بيا د بوديجې د توشيح څخه وروسته به د ۱۴۰۲ مالي کال د لگښتونو تأديات شروع شي.

## معین اداری وزارت مالیه با معاون سفارت جمهوری اسلامی ایران دیدار کرد

مولوی حمدالله زاهد معین اداری وزارت مالیه با حضور داشت شماری از روسای این وزارت با غلام رضا نجاری، معاون سفارت جمهوری اسلام ایران در مقر این وزارت دیدار و گفتگو کردند. در این دیدار، طرفین روی عقد موافقتنامه اجتناب از اخذ مالیات مضاعف میان افغانستان و ایران، سهولت های مالیاتی و ایجاد سهولت ها در بنادر گمرکی میان دو کشور بحث و تبادل نظر کردند. آقای نجاری؛ معاون سفارت جمهوری اسلامی ایران وعده سپرد که کشورش در قسمت کاهش مالیات و ایجاد سهولت برای تجاران افغان همکاری می کند.



مولوی حمدالله زاهد معین اداری وزارت مالیه ضمن سپاسگزاری از همکاری های جمهوری اسلامی ایران با حکومت افغانستان افزود که امارت اسلامی افغانستان از ایجاد هر نوع تسهیلات و راهکارهای که سبب ایجاد سهولت میان طرفین شود، استقبال و حمایت قاطع می کند.

## د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ نن د معاشونو او تشکيلاتو د تنظيم کمېسيون غونډه جوړه سوه

په دې غونډه کې د کمېسيون محترمو غړو او د ماليې وزارت د گمرکونو معين محترم ملا محمد ناصر اخوند او يو شمېر نورو مسلکي کارکوونکو حضور درلود. په پيل کې د ماليې وزارت د گمرکونو معين د تېر کال د عوايدو او هدف په پرتله د حقيقي، مالياتي او غير مالياتي عوايدو او گمرگي محصولاتو راټولولو د څرنگوالي په اړه راپور وړاندي کړ. همداراز په غونډه کې د (۱۴۰۲) مالي کال د بوديجې، بوديجوي کوډونو او په راتلونکي کال کې د کسر د رفع کولو په اړه هراړخيز بحثونه ترسره او په پای کې لازم تصميمونه ونيول سول.





**د افغانستان بانک کې د الحاج ملا هدايت الله بدري وينا**

م ۲


**د ماليې وزارت کفيل د افغانستان طبي شورا له مسؤلينو سره وکتل**

م ۲




**د افغانستان د سوداگرۍ او پانگونې خونې کې د مالياتي عامه پوهاوي سيمينار او مشورتي غونډه ترسره شوه**

م ۲



**د مستوفيتونو دولتي املاکو مديرانو ته روزنيز پروگرام پيل سو**

م ۲



**د گمرکونو لوی رئيس هرات ولايت ته رسمي سفر وکړ**

م ۲



وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آگاهی عامه


اطلاعیه وزارت مالیه در رابطه به طی مراحل شفاف اموال تجاری در گمرکات

در این اواخر برخی از شرکت های تجارتی در طی مراحل گمرکی اموال تجاری خویش عوض جواز خود از جواز کمیشنکار استفاده میکند.
ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه از تمامی شرکت های تجارتی می خواهند که اموال خود را با جواز خود به گمرک وارد نموده و طی مراحل گمرکی آن را توسط نماینده رسمی خویش انجام دهند.
طی مراحل تمام اموال تجارتی که تحت نام هر جواز باشند، اینکه تمام اسناد حمایوی آن به نام شرکت واردکننده می باشند؛ بناً طبق قانون به نام همان شرکت شناخته می شود و نیز هرگونه مسئولیتی مربوط همین شرکت می باشد.
همچنان ریاست عمومی گمرکات از تمام شرکت های تجارتی که تا هنوز نماینده خویش را به این ریاست معرفی نکرده اند درخواست می کند که تا پایان ماه مبارک رمضان نمایندگان خود را برای طی مراحل گمرکی اموال تجارتی شان به طور رسمی به ریاست عمومی گمرکات معرفی نمایند. به همین ترتیب اگر نمایندگان رسمی شرکت ها پس از این از اصول گمرکی تخلف می نمایند؛ مسئولیت بعدی آن بر عهده شرکت معرفی شده می باشد و شرکت مذکور به ریاست عمومی گمرکات نیز جوابگو خواهد بود.

**اطلاعیه وزارت مالیه در رابطه به طی مراحل شفاف اموال تجاری در گمرکات**

م ۲

### سرمقاله



## رشد اقتصادی یک کشور وابسته به صنعت همان کشور می باشد

رشد اقتصادی یک کشور وابسته به رشد صنعت همان کشور است از آنجای که صنایع محرک اصلی در اشتغال محسوب می شوند نباید صنایع را نادیده گرفت. کشور ما تاریخ بسیار درخشانی در زمینه صنعت دارد، نظر به پیشینه تاریخی هزار سال قبل از مسیح در افغانستان صنعتگران در ساختن انواع زیورهای فلزی از طلا، نقره، مس، آهن و غیره مهارت داشته اند. مثلاً زرب طلا، کمربند طلا و نقره، نعل اسب، کالای پشمی، گلیم، پوستینچه، گادی های مزین با طلا، تکه های لطیف کرک، ظروف برنجی و گلی، کارخانه زرگری و کوزه، آهنگری و صنایع دیگر در اوستا نام برده شده است. بخش صنعت با بهره گیری از سرمایه‌های فیزیکی متراکم شده، منابع طبیعی و مواد خام، نیروی انسانی و دانش فنی، قادر است در تأمین بسیاری از مایحتاج زندگی انسان و رشد اقتصادی جوامع، نقش کلیدی ایفا کند. نقش صنعت در توسعهء اقتصادی جوامع و نیز افزایش سهم کشورها در تجارت بین المللی به ویژه در قرن اخیر به شدت افزایش یافته و به همراه آن رقابت در بازار محصولات صنعتی فشرده تر شده است. با این حال صنعت، موتور توسعهء اقتصادی بسیاری از جوامع بشری که حتی فاقد منابع طبیعی قابل توجه می‌باشند، شده است. پس نباید نقش صنعت در پیشرفت یک کشور نادیده گرفت شوند از آنجای که بشر با رشد صنعت رشد اقتصادی را تجربه کرده است.با سیر تاریخی که افغانستان در بخش صنعت خود دارد در طی چندین دهه اخیر نقش صنعت در اقتصاد کشور نادیده گرفته شده بود این عامل باعث گردید که صنعت طلای افغانستان با پیشینه تاریخی خود به رکود مواجه شوند . از آنجایکه امارت اسلامی توجه خاص در بخش رشد و بالندگی صنعت در کشور دارد در مدت کوتاهی توانسته که این بخش را رشد داده تا بتواند تمدن درخشنده ئی گذشته را دوباره احیا نماید. از جمله می توان گفت که افغانستان از ره‌گذر تولید آهن آلات به خودکفایی رسیده و قرار است در آینده نه چندان دور صادرات آهن آلات از جمله به آسیای میانه آغاز شود. سکتور ذوب آهن، در افغانستان رشد چشمگیر نموده در این حال کیفیت آهن آلات تولید شده نیز افزایش یافته است. این تولیدات در بخش صنعت آهن آلات در کشور یک نمونه است . در بخش های مختلف صنعت در این اواخیر رشد قابل ملاحظه ی دیده میشود، این باعث می شود که عواید خوبی در خزانه دولت واریز شود تا کشور را بسوی خود کفایی در بخش اقتصادی برساند.

**با احترام**
**اداره**

شتمني
SHTAMANAI
اوونیزه

## د ګمرکونو لوی رئیس هرات ولایت ته رسمي سفر وکړ



د ګمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید، د یوه پلاوي په مشرۍ هرات ولایت ته رسمي سفر وکړ او هلته ته ئې د هرات له والي نور احمد اسلام جار، د یاد ولایت د ګمرک له مسؤلینو او کارکونکو او د هرات او نیمروز ولایتونو له یو شمېر سوداګرو سره په جلا جلا ډول وکتل.
د هرات له والي سره په لیدنه کي دواړو لوریو د هرات په ګمرک کي سوداګرو ته د لا اسانتیاوو په برابرولو، د قاچاقي لارو په بندېدو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وکړه.
د ګمرکونو لوی رئیس د هرات ګمرک له مسؤلینو او کارکونکو سره په لیدنه کي دوی ته په سمه توګه اړوندو چارو ته د رسېدو، د کارکونکو ترمنځ د لازمي همغږۍ د رامنځته کېدو، اسلامي اصولو سره سم د خپل سیرت او صورت د برابرلو، په خپل وخت سره د خلکو ستونزو ته د رسېدو، په رسمي چارو کي د خپلوۍ او قرابت د نه پاللو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه لازمي سپارښتني ورکړې.
ښاغلي سعید، د هرات او نیمروز ولایت له یو شمېر سوداګرو سره په لیدنه کي د دوی شته ستونزي واورېدې، چې د ګمرکونو لوی رئیس له لوري د دوی ځینو ستونزو ته رسېدنه وسوه او د نورو ستونزو د ژر حل کېدو ډاډ ئې ورکړ.
همداشان نوموړي هرات ولایت ته په خپل سفر کي د اسلام قلعه سرحدي ګمرک څخه هم لیدنه وکړه او د یاد ګمرک مسؤلینو او کارکوونکو ته ئې د چارو د لا ښه والي لپاره لازم هدایات ورکړل.
د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رئیس د ګمرکونو له چارو څخه د ارزوني او له نږدې څخه د سوداګرو ستونزو د اورېدو په موخه بېلابیلو ولایتونو ته سفرونه کوي، چې دا لړۍ به همداسي دوام ولري.

## د ګمرکونو لوی رئیس د ننګرهار ګمرک د ارزوني په موخه دغه ولایت ته سفر وکړ

د ګمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید، د ننګرهار او تورخم ګمرکونو د چارو د ارزوني په موخه دغه ولایت ته رسمي سفر وکړ.
مفتي عبدالمتین سعید، د ننګرهار ګمرک له مسؤلینو او کارکونکو سره په لیدنه کي دوی ته د چارو د لا ښه والي په موخه لازمي سپارښتني وکړې. همدا شان د یاد ګمرک مسؤلینو او کارکونکو هم په کاري برخه کي خپلي ستونزي د ګمرکوونو له لوی رئیس سره شریکي کړې، چې نوموړي ئې د حلولو ډاډ ورکړ.
همدا شان د ګمرکونو لوی رئیس د تورخم سرحدي ګمرک څخه هم لیدنه وکړه، چې د سوداګریزو توکو د چټکو پراوونو تر سره کولو او د سوداګرو ستونزو ته د رسېدني په برخو کي د یاد ګمرک مسؤلینو ته لازم هدایات ورکړل سول.
د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رئیس د هیواد د ګمرکونو د ارزوني، له نږدې څخه د سوداګرو د ستونزو اورېدو او دوی ته د لا اسانتیا برابرولو په موخه بېلابیلو ګمرکونو ته سفرونه کوي او د سفرونو دا لړۍ به په راتلونکي کي هم دوام ولري

## د افغانستان بانک کي د مالیې وزارت مخکني سرپرست وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري وینا!



د افغانستان بانک مشرتابه او غړو، ښاغلو مېلمنو او ښاغلو حاضرینو!
**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛**
لومړی دي تاسو ټولو ته روژه مبارکه نېکمرغه وي او الله تعالی دي وکړي، چې عبادتونه مو د الله په عظیم حضور کي قبول وګرځي.
ډېرو قدرمنو حاضرینو! په سر کي غواړم د مخکنۍ دندي په تړاو یو څو لنډي خبري ولرم.
د اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه تر نن ورځي پوري زه د افغانستان د یوه اساسي او کلیدي ارګان د خادم په توګه د ملت په خدمت او د بیت المال مسؤل وم. په دغه څه باندي یوه کال کي مو د زړه له تله او بې سترپا هلي ځلي کولې چې دا هیواد کم تر کمه په خپلو شتمنیو، خپلي بودیجې او خپلو عوایدو بډایه سي او په بودیجه کي هیڅ چا ته اړ نه سو. خو الحمدالله تر ډېره بریده دا کار وسو او بودیجه مو خپلواکه کړه. د عوایدو را ټولولو په برخه کي مو بشپړي روڼتیا ته ځانونه ژمن وبلل، چې الحمدلله په دې برخه کي هم بریالي سوو او تر خپل ټاکلي هدف لوړ ولاړو او د افغانستان په تاریخ کي مو له ګمرکونو څخه (۱۰۰) میلیارده افغانۍ شفاف عواید راټول کړل، چې تېر نظامونه په دې نه وه توانېدلي.
د تېر یوه کال او مخکي دریو میاشتو بودیجې د چمتو کولو او تطبیق ترڅنګ مو په پوره ورتیا سره د (۱۴۰۲) کال ملي بودیجه هم په نړیوالو معیارونو ترتیب، د وزیرانو شورا له خوا تائید او د توشیح لپاره مو د افغانستان اسلامي امارت (زعیم امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله) ته واستوله. ترڅنګ ئې د مالیې وزارت د برېښنایي حکومتولۍ، سیستمونو فعالولو، عصري ګمرکونو، سپما، د زرګونه دولتي مامورینو د معاشونو ورکړه، سوداګریزي اسانتیاوي، د مالیاتي جریمو معافیت، پر اصنافو د مالیاتي نورم ټیټول او دې ته ورته یو شمېر نور پرمختګونه تجربه کړي، چې د ټولو یادول به وخت ونیسي، غواړو راتلونکو مسؤلینو ته ئې پرېږدو.
غواړم د افغانستان بانک له ادرس څخه تاسو ته ووایم چې، د افغانستان بانک ته زما راتګ هم د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ په پرېکړه ترسره سو. دا څرګنده ده چې په نظامونو کي تغیر او تبدیل سره له دې چې یو اصل دئ، بلکه د فکرونو د تبادلې او د نوښتونو د رامنځته کولو په برخه کي هم یوه غوره تګلاره ده.
بانک د هر هیواد د پولي سیاست د تطبیق او د هغه څخه د خارني یوازینۍ مرجع ده. زموږ پولي واحد افغانۍ ده او د بهرنیو اسعارو په مقابل کي کنټرول به ئې له اقتصادي غوښتنو سره سم زموږ اساسي هدف وي، غواړو د شرعي اصولو په رڼا کي ملت ته بانکي خدمتونه وړاندي کړو.
موږ غواړو چې خپل اساسي او شرعي هدف ته په رسېدو کي اړوندي اداري سره همکاره سي. بله اساسي موخه مو د افغانستان هغه کنګل سوې شتمني آزادول دي، چې د ملت هیلي پرې تړلي دي او په دې برخه کي به نړیوالو اصولو او له داخلي اړتیاوو سره سم اړین اقدامات ترسره کړو.
تر ټولو اړینه دا ده، چې د اوسنیو شرایطو او معیارونو مطابق به د بانکونو نظارت ترسره کیږي او موږ به د هغو بانکونو د ملاتړ برخه یو، چې تر فشار لاندي دي.
همدارنګه موږ به پولي سیاست او مالي سیاست سره همغږۍ کوو او پر مخ به ځو، زموږ او ستاسو په ګډه همکارۍ به د افغانستان بانکي نظام ته اسانتیاوي او عصري ټکنالوژي رامنځته کړو، چې په دې معیارونو به له ټولي نړۍ سره سیالي وکړای سو.
په پای کي؛ د افغانستان بانک له مخکني رئیس صاحب څخه هم د زړه له تله مننه کوو، چې د بانک د پرمختګ او له سیاسي بدلونه وروسته ئې د افغانیو د ثبات لپاره نه ستړي کېدونکي هلي ځلي وکړې. هیله ده چې زما په راتګ او ستاسو په همکارۍ او ملتیا سره د افغانستان بانک نور هم د ښېرازۍ په لوري ګامونه پورته کړي.
**له پاملرني مو مننه!**

## د مالیې وزارت د (۱۴۰۱) کال د لاسته راوړنو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس د رسنیو په مرکز کي ترسره سوه

**په دوام ...**

وروسته بیا د ګمرکونو لوی رئیس عبدالمتین سعید وویل: دا چې په (۱۴۰۱) مالي کال کي د ګمرکونو عواید خورا ښه او په راڼه ډول راټول سوي وه، نو موږ وتوانېدو، چې له ټاکل سوي هدف څخه زیات عواید را ټول کړو. همدا راز موږ په تېر کال کي وکولای سول، چې د هیواد له ګمرکونو څخه (۱۱۱.۵) یوسل او یولس عشاریه پنځه میلیارډه افغانۍ عواید راټول کړو، په داسي حال کي، چې په همدې کال کي را کړل سوی هدف (۱۰۵) یو سل او پنځه میلیارډه افغانۍ و او دا په ګمرکونو کي د شفافیت څرګندویي کوي. همدارنګه مو وکولای سول، چې په تېر کال کي (۱۸۹) زره صادراتي محمولي او (۵۳) زره محمولي ټرانزیټ ولرو، چې د تېر په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښیي، په دې توګه (۱۵) میلیارډه افغانۍ د صادراتو له لاري او (۲) میلیارډه افغانۍ د ټرانزیټ له لاري ترلاسه سوي دي.
وروسته د مالیې وزارت د عوایدو عمومي ریاست عملیاتي مرستیال معراج محمد معراج وویل: د مالیې وزارت د عوایدو ریاست د مالیاتي او غیر مالیاتي عوایدو د راټولولو، د ملي عوایدو د پالیسیو پلي کولو، تحلیل او ارزونه، مالیه ورکوونکو، مؤسسو او ادارو ته د تخنیکي اسانتیاوو رامنځته کولو او قانون په چوکاټ کي د مالیاتو د راټولولو دنده پر غاړه لري. نوموړي وویل، چې تېر کال د عوایدو عمومي ریاست (۱۹۳،۹) ملیارده افغانۍ عواید راټول کړي دي، چې په دغو عوایدو کي (۱۳،۸) میلیارده له مستوفیتونو، (۴۲،۲) میلیارده له غیر مالیاتي عوایدو، (۲۱،۸) ملیارده مالیه ورکوونکو ته د خدمتونو وړاندي کولو ریاست، (۲،۷) میلیارده د مرکز زون عوایدو او دا راز (۱،۷) میلیارده هم د بررسۍ ریاست څخه را ټول کړي دي، چې ټول ټال (۸۲،۴) میلیارده افغانۍ کېږي. همدارنګه د عوایدو لوی ریاست د تېر کال په اوږدو کي، عواید د (۱۴۰۰) کال په پرتله ۱۴ سلنه زیات سوي دي.
د کنفرانس په پای کي د مالیې وزارت د خزاینو عمومي رئیس نصرت الله محمود وویل: چې د (۱۴۰۱) مالي کال لپاره په ټولیز ډول (۲۳۹) میلیارډه افغانۍ په پام کې نیول سوي وې، چې له دې جملې څخه (۲۱۰.۵) میلیارډه افغانۍ عادي بودیجه او (۲۸.۵) میلیارډه ئې پراختیایي بودیجه وه. د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست په (۱۴۰۱) مالي کال کي(۱۸۴.۵) میلیارډه افغانۍ پر لګښتونو او (۱۰.۷) افغانۍ ئې په پراختیایي بودیجه کي لګولي دي، چې د (۴۳.۷) میلیارډه افغانۍ له کسر څخه پکې مخنیوی سوی دئ.

## د مالیې وزارت کفیل د افغانستان طبي شورا له مسؤلینو سره وکتل


د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین او د وزارت کفیل الحاج ملا محمد ناصر اخند د افغانستان طبي شورا له لوی رئیس ډاکټر ګل محمد عثمان او مسؤلینو سره وکتل.
په دغه کتنه کي د افغانستان طبي شورا مسؤلینو د یادي شورا اهداف او په طبي برخو کي ئې د شورا ارزښت بیان کړ او د مالیې وزارت څخه ئې غوښتنه وکړه، چې د شورا د چارو د لا ودې په موخه په مالي برخو کي ورسره همکاري وکړي.
د مالیې وزارت کفیل الحاج ملا محمد ناصر اخند وویل: په هیواد کي د طبابت برخي ته اړتیا ډېره ده او ډېری وخت زموږ هیوادوال د طبي ستونزو د حل په موخه ګاونډیو هیوادونو ته ځي، چې د دې ستونزي د حل لپاره په هیواد کي د طبي معیارونو او ظرفیتونو د لوړولو او اسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کي هر ډول همکارۍ ته چمتو یو؛ ترڅو افغانان د درملني په برخه کي د بهرنیو له محتاجۍ څخه خلاص سي او افغانستان په طبي برخه کي پر ځان بسیا سي.

## اطلاعیه وزارت مالیه در رابطه به طی مراحل شفاف اموال تجاری در گمرکات




در این اواخر برخی از شرکت های تجارتی در طی مراحل گمرکی اموال تجاری خویش عوض جواز خود از جواز کمیشنکار استفاده میکند. ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه از تمامی شرکت های تجارتی می خواهند که اموال خود را با جواز خود به گمرک وارد نموده و طی مراحل گمرکی آن را توسط نماینده رسمی خویش انجام دهند. طی مراحل تمام اموال تجارتی که تحت نام هر جواز باشند، اینکه تمام اسناد حمایوی آن به نام شرکت واردکننده می باشند؛ بنأ طبق قانون به نام همان شرکت شناخته می شود و نیز هرگونه مسئولیتی مربوط همین شرکت می باشد. همچنان ریاست عمومی گمرکات از تمام شرکت های تجارتی که تا هنوز نماینده خویش را به این ریاست معرفی نکرده اند درخواست می کند که تا پایان ماه مبارک رمضان نمایندگان خود را برای طی مراحل گمرکی اموال تجارتی شان به طور رسمی به ریاست عمومی گمرکات معرفی نمایند. به همین ترتیب اگر نمایندگان رسمی شرکت ها پس از این از اصول گمرکی تخلف می نمایند؛ مسئولیت بعدی آن بر عهده شرکت معرفی شده می باشد و شرکت مذکور به ریاست عمومی گمرکات نیز جوابگو خواهد بود. قابل ذکر است که بر اساس تصمیم رهبری ریاست عمومی گمرکات هر فرد فقط نمایندگی سه شرکت را میتواند به عهده بگیرد.

# د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه کې د مالياتي عامه پوهاوي سيمينار او مشورتي غونډه ترسره سوه



د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست له لوري د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني د غونډو په تالار کې د افغانستان د مالياتو په اړوند د عامه پوهاوي سيمينار او مشورتي غونډه، د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال معراج محمد معراج او د عوايدو د حقوقي خدمتونو رئيس مولوي نداء محمد صديقي، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني د مديره پلاوي لومړي مرستيال محمد يونس مهمند او نورو مسؤلينو په شتون کې ترسره سوه. په پيل کې محمد يونس مهمند ګډونوالو ته د هرکلي تر ځنګ وويل: الحمد لله په هيواد کې د سرتاسري امنيت په رامنځته کېدو سره هر راز مالياتي ستونزه حلېږي، نو اړينه ده چي له اړوندو مسؤلينو سره ئې له نږدې حل و فصل کړو. ده زياته کړه، موږ د ماليې وزارت له مشرتابه غوښتي وو، چي ماليه ساده، واحده او په قوانينو کې اسانتيا راولي، دوی ومنله او اوس دغه غوښتنه د عوايدو لوی رياست څخه هم کوو. اوسني قوانين چي د بهرنيو هيوادونو د قوانينو کاپي دي، بايد له منځه يوړل سي او پر ځای ئې ساده قوانين وضع سي. ورپسې ښاغلي معراج محمد معراج وويل: افغانستان اوس خپلواک نظام، خپلواک اقتصاد او خپلواک نظامي ځواک لري او ان شاءالله دا ټوله خپلواکي به د ماليه ورکوونکيو په ماليې سره ساتو او د ماليه ورکوونکيو لپاره هم په نږدې وخت کې ځيني زيري ولرو، چي اوس اعلانول به ئې تر وخت مخکې وي بلکه په يوه ستره غونډه کې به اعلان سي. نوموړي زياته کړه، په اوسني مالياتي نظام کې سودي او غيرشرعي سيستمونه له منځه وړل سوي دي او د ماليه ورکوونکيو د اسانتياؤ په موخه زموږ مالياتي سيستم له نورو ادارو سره تړل سوی دی او لا هم کوښښ روان دی چي له پاتي ادارو سره هم وتړل سي او يوه رسمي اقتصاد ته ولاړ سو. ځکه چي په دې سره د هيواد پرمختګ تضمينېږي. د حقوقي خدمتونو رئيس ښاغلي مولوي نداء محمد صديقي وويل: که د سوداګرۍ او پانګوني خونه را سره همکاره وي په قوانينو کې به هم بدلون راولو او تر اوسه پوري د خصوصي سکتور هره خبره منل سوېده، البته د ماليې وزارت د قوانينو او مقررو په رڼا کې، او دا چي ځينو ښاغليو د اظهارليک خبره وکړه چي له مينځه دي يووړل سي، نو هغوی ته وايم چي يو د ماليې اصول دي او بل فروعات دي، نو اظهارليک د ماليې په اصولو او اساساتو کې راځي او دا له مينځه وړلی نه سو او دا که له مينځه وړو، نو ماليه له مينځه وړو. نوموړي زياته کړه، راځئ چي ټول اړخونه خپل نظرونه سره شريک کړو او راتلونکې کې د ګيلو ځای پاتي نه سي. تر ويناؤ وروسته د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د کارکوونکيو له لوري د افغانستان د مالياتي سيستم په اړوند د عامه پوهاوي ترتيب سوی پرېزنټېشن وړاندي سو چي د خلکو پوښتنو ته په کې ځوابونه هم وويل سول. ورپسې ګډونوالو له دواړو لوريو سره خپلي ستونزي، وړانديزونه او نظرونه شريک کړل او غوښتنه ئې وکړه، چي د ستونزو د حل لپاره دي دا ډول نوري غونډې هم جوړې سي. د يادونې وړ ده چي د دغه سيمينار او مشورتي غونډې پر مهال د خصوصي سکتور اړوند د بېلابېلو سکتورونو لسګونو استازيو ګډون کړی ؤ.

## نقش موسسات غیردولتی (انجوها) در روند اقتصادی کشور ۱۴۰۰-۱۴۰۲



ساحل رحیمی، کارمند
ریاست انسجام کمک ها

مقدمه:

مؤسسات غیر دولتی (NGO) عبارت از سازمان داوطلبانه اجتماعی است که در یک مکان مشخص، به گونه غیرانتفاعی، غیرسیاسی و غیر دولتی برای رفاه و توسعه اجتماعی فعالیت مینماید. براساس آخرین آمار و گزارشات وزارت محترم اقتصاد امارت اسلامی افغانستان، به تعداد ۱۷۵۲ موسسه غیردولتی نزد آن وزارت ثبت میباشد که از آن جمله ۱۲٤۷ آنها موسسات داخلی و به تعداد ۵۰۵ موسسات خارجی می باشند. مطابق به ماده ۳۱ قانون موسسات غیر دولتی، هر موسسه مکلف است که گزارش فعالیت های خود را هر شش ماه به وزارت اقتصاد ارایه نماید. براساس گزارشات



واصله و ارزیابی آنها، موسسات غیر دولتی عمدتاً در شش سکتور (صحت، زراعت، تعلیم و تربیه، حکومتداری خوب، مصونیت اجتماعی و زیربنا) فعالیت می نمایند و مصارف سالانه موسسات در این سکتور ها درسال های اخیر حکومت قبلی بصورت اوسط بین ۸۰۰ تا ۸۸۰ میلیون دالر می رسد که در حدود یک بر سوم حصه بودجه انکشافی دولت را تشکیل می داد اما بعد از روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان تعداد از موسسات خارجی و داخلی فعالیت های شان در سکتور های نامبرده چشم گیر و کم رنگ تر گردید ولی بر عکس تلاش شان برای عرضه خدمات اساسی برای مردم که اقتصاد شان متاثر و آسیب پذیر بودند، بیشتر گردید که میتوان از تطبیق و توزیع کمک های بشردوستانه طی دو سال اخیر نام برد.

ادامه دارد ...

شتمني
SHTAMANAI
اوونيزه

## د مستوفيتونو دولتي املاکو مديرانو ته روزنيز پروګرام پيل سو



د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست له لوري او د دولتي املاکو لوی رياست په همکارۍ د دولتي املاکو د حفظ او مراقبت مديرانو، د مازادو دولتي املاکو مديرانو او د دولتي املاکو د تصفيې د ثبت مديرانو ته انلاين روزنيز پروګرام د دغه وزارت په خيبرهال کې پيل سو. په دغه پروګرام کې د بشري سرچينو رئيس مولوي احمد شاه شاکر، د ظرفيت لوړوني آمر محمد انس مجاهد او د ياد رياست يو شمېر کارکوونکو ګډون کړی و. د دغه پروګرام په پرانيستنه کې مولوي احمدشاه شاکر د غونډې ګډونوالو ته وويل: مجازي روزنيز پروګرام نمايشي کار نه دئ، په حقيقت کې د کارکوونکو د ظرفيت لوړوني په موخه په لاره اچول سوی دئ؛ نو له دې پروګرامونو څخه اعظمي ګټه پورته کړئ، خپله مسلکي وړتيا او ظرفيت لوړ او دولتي املاک لا منظم او منسجم کړئ. د بشري سرچينو د ظرفيت لوړوني آمر، محمد انس مجاهد د دعايې په ويلو سره دغه پروګرام پای ته ورساوه. د يادوني وړ ده، چي دغه پروګرام به درې ورځي دوام وکړي او د ابتدايي چارو، د امارتي املاکو د ثبت، ساتني، پالني او نورو اړوندو موضوعات په اړه به تدريس پکښي وسي

### جلسه هیئت مدیره فیصله کرد که ۴۷ میلیون افغانی مفاد مازاد سال ۱۴۰۰ شرکت هوتل ها جهت انکشاف فعالیت های اساسی شامل سرمایه دورانی آن شرکت گردد

جلسه ی هیئت مدیرهٔ شرکت دولتی هوتل ها تحت ریاست حمیدالله عبدالهی، نماینده وزارت مالیه و عضو هیئت مدیرهٔ آن شرکت در مقر ریاست شرکت هوتل ها برگزار شد. در این جلسه در مورد تائید پلان مالی و تشکیل سال ۱۴۰۲شرکت هوتل ها، طرح اجاره دهی مشارکتی کافی سپوژمی (بندقرغه)، انتقال حدود ۴۷ میلیون افغانی مفاد مازاد سال ۱۴۰۰ شرکت به وزارت مالیه، پلان تدارکاتی سال ۱۴۰۲ شرکت هوتل ها، طرزالعمل ارتقای ظرفیت کارکنان و پلان تطبیقی ارتقای ظرفیت، تصمیم گیری راجع به ایجاد حساب های بانکی جداگانه برای هر فند، تعیین سرنوشت پنج فیصد مفاد شرکت بعد از تغییر شخصیت حقوقی این اداره از تصدی به شرکت و دیگر مسائل مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت. جلسه هیئت مدیره فیصله کرد که ۴۷ میلیون افغانی مفاد مازاد سال ۱۴۰۰ شرکت جهت انکشاف فعالیت های اساسی آن شرکت که به دارائی اضافی نیاز مبرم دارد، شامل سرمایه دورانی شرکت گردد و در زمینه طبق اصول اجراات شود. جلسه هیئت مدیره در مورد تعیین سرنوشت پنج فیصد مفاد شرکت که بعد از تغییر شخصیت حقوقی آن اداره از تصدی به شرکت بی سرنوشت باقی مانده بود، را از فند فرهنگی به فند توسعوی مورد تائید قرار داد و هدایت داد تا در زمینه اصولا اجراات شود. همچنان طرزالعمل ارتقای ظرفیت کارکنان، پلان تطبیقی ارتقای ظرفیت، پلان مالی و تشکیل سال ۱۴۰۲ شرکت هوتل ها و ایجاد حساب بانکی جداگانه برای هر فند مطابق قانون شرکت های دولتی و اساسنامه شرکت را تائید کرد.


# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی موازی (۷۸۰) متر مربع بشمول تعمیر مخروبه در ولسوالی چهارآسیاب

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد دولتی ذیل را بشکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه می دهد:

۱. موازی (۷۸۰) متر مربع بشمول تعمیر مخروبه آن واقع بازار ولسوالی چهار آسیاب.

درصورتیکه اشخاص، موسسات و شرکتهای محترم واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (١٤) منزله سینما پامیر سپرده سر از تاریخ ١٤ حمل الی (٢١) روز مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده مبلغ (٢٠٠٠) هزار افغانی پول حق الاشتراک بدون بازگشت را پرداخت نمایند.

### تهیه و تدارک جات پرزه جات وسایط وزارت مالیه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادر داوطلبی پروژهء(تهیه و تدارک پرزه جات وسایط وزارت مالیه) دارای نمبرتشخیصیه ٠٠٣-g/١٤٠٢/mof که به روش داوطلبی باز صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٠٩/ ثور/١٤٠٢ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر : به مبلغ ٢٢٠,٠٠٠ (دوصدو بیست هزار) افغانی می باشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤٠٤٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

### تهیه و تدارک ٦١ قلم مواد خام طباعتی برای مطبعه صکوک و ضرابخانه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تهیه و تدارک ٦١ قلم مواد خام طباعتی برای مطبعه صکوک و ضرابخانه) دارای نمبرتشخیصیه٠٠٤-G/١٤٠٢/MOF که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ٠٢/ ثور/١٤٠٢ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ١٢/ ثور/١٤٠٢ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ١،٥٠٠،٠٠٠ (یک میلیون و پنجصد هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤٠٤٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

**د امتياز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدير:** احمد ولي حقمل
**مرستيال:** حبيب الله خُبيب
**د متونو تصحيح کوونکی** : ابراهيم ګران
**ژباړن** : اجمل زاهد

**کتنپلاوي:** ندا محمد صديقي ، مولوي عبدالرازق متقي ، صديق الله وفا ، شمس عاطف ، بلال احمد احدي
**د خبر مدير** : داود نظري
**خبريال:** سيد مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**ډيزاينر:** محمد نسيم ظهوري

**عکاس:** فضل احمد يوسفزی
**ويبپاڼه:** mof.gov.a
**ټويټر :** afghanistanmof @
**يوټيوب:** afghanistan moF
**شمېره :** ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)






د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د ماليه ورکوونکو د خدمتونو رياست د نوي بانکي حساب خبرتيا

ټولـو قدرمنـو حقيقـي او حقوقـي اشـخاصو تـه پـه درنښـت سره خـبر ورکـول کېـږي چـې د ماليـې وزارت محـترم مقـام د لـزوم ديـد پـر بنسـټ د عوايـدو لـوی رياسـت اړونـد د لويـو او منځنيـو ماليـه ورکوونکـو رياسـتونه د "ماليـه ورکوونکـو د خدمتونـو رياسـت" (رياسـت خدمـات ماليـه دهنـدګان) تـر نامـه لانـدې د يـوه رياسـت پـه چـوکاټ کـې مدغـم او د کابـل ښـار د محمـود خـان پلـه تـه څېرمـه د ملي بس تصدی په انګړ کې واقع او فعاليت ترسره کوي.

د تېـرو کلونـو پـه څېـر دغـه رياسـت تېـر کال "د افغانسـتان بانـک" کـې پنځـه جـدا بانکـي حسـابونه درلـودل چـې ماليـه ورکوونکـو بـه خپـل مالیـاتي مکلفيتونـه همـدې حسـابونو تـه تاديـه کـول. اوس د ۱۴۰۲ مـالي کال پـه پيـل کـې د چـارو د پاشـلتيا د مخنيـوي پـه موخـه ټـول پخـواني بانکـي حسـابونه بنـد سـوي او د ماليـه ورکوونکـو د خدمتونـو رياسـت د ورځنيـو عوايـدو د راټولولـو پـه موخـه "د افغانستان بانک" کې (3000208120010) نوی بانکي حساب پرانيستل سوی دئ.

زموږ ماليه ، زموږ هېواد ، زموږ راتلونکی

www.mof.gov.af | afghanistanmof



د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

## د افغانستان لاس بې اسنادو (يو کيلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه د روان کال تر پايه تمديد سوه

د ماليـې وزارت د ګمرکونـو لـوی رياسـت پـه وړانديـز او د ا.ا.ا د کابينـې پـه تائيـد د افغانسـتان لاس د بـې اسـنادو (يوکيـلي) موټرونـو د ثبـت او محصـول پروسـه د شـته کړنـلاري لـه مخـې د (۱۴۰۲) هــ.ل کال تـر پايـه تمديـد سوه.

يـاده پروسـه سر لـه سبا (۱۴۰۲/۱/۱۷) د هيـواد پـه اووه زونونـو (کابـل, هـرات، بلـخ، ننګرهـار، کندهـار، کنـدز او خوست/پکتيا) کي پيلېږي.

د يـو کيـلي موټرونـو د ثبـت او محصـول پـه شـته کړنـلاره کـې د خلکـو اقتصـادي حـالات پـه پـام کـې نيـول سـوي او پـه داسي لارو چـارو فکـر سـوی، چـې د بـې اسـناده موټرونـو مالکيـن وکـولای سي، خپلـو موټرونـو تـه اسـناد واخـلي.

د بې اسناده موټرونو په محصول کي په لويه سلنه تخفيف ورکړل سوی، چي په لاندې ډول دی:

له (۱۹۹۰) څخه تر (۲۰۰۰) ماډل موټرونو ته (۶۰ سلنه) تخفيف ورکړل سوی.

له (۲۰۰۱) څخه تر (۲۰۰۹) ماډل موټرونو ته (۵۰ سلنه) تخفيف ورکړل سوی.


د (۲۰۱۰) څخه تر (۲۰۱۲) ماډل موټرونو ته (۲۵ سلنه) تخفيف ورکړل سوی.

همداشـان د هيـواد پـه ټولـو ولايتونـو کـې د بـې اسـنادو موټرونـو لـه ګرځېـدو څخـه د مخنيـوي او ګمـرک تـه د يـادو موټرونـو د تسـليمېدو پـه موخـه د اړونـدو ادارو څخـه يـو کمېسـيون جـوړ سـوی، چـې د يـادي پروسـې لـه پيـل سره به چا ته اجازه ور نه کړي، چي بې اسناده موټر وګرځوي او مکلف دي چي قانوني سندونه ورته واخلي.


www.mof.gov.af | afghanistanmof

## Press Conference on the Achievements of the Ministry of Finance in FY-1401 Held at the Government Media and Information Center

On Sunday, April 4, 2023, a press conference on the Ministry of Finance›s achievements in FY-1401 was conducted at the Government Media and Information Center, where high-ranking Ministry officials presented statements. The General Director of Customs, Mufti Abdul Matin Saeed, the General Director of Treasury, Nasratullah Mahmood, the General Director of Revenue Operational Assistance, Mairaj Mohammad Mairaj, and the Director of Public Relations and Awareness, Ahmad Wali Haqmal, all attended the conference. First, while welcoming the participants, Ahmad Wali Haqmal, Director of Public Relations and Awareness at the Ministry of Finance, stated, «Despite all economic and political challenges and the cruel sanctions imposed on Afghanistan by the International Community, managed to meet the national budget from domestic revenue and solve the problems to a large extent, as well as financing the budget deficit by retrenching and avoiding unnecessary expenses.» Secondly, the operational assistant of the General Directorate of Revenue, Mairaj Mohammad Mairaj,




stated that in 1401 we collected 193.9 billion AF, with 111,5 billion from customs and 82.4 billion from the Revenue Department, a 37% increase over the previous year. He also stated that we are implementing and managing national revenue policies, analyzing and evaluating taxpayer needs, and providing technical assistance to them. Following then, Mufti Abdul Matin Saeed, general director of customs, remarked that customs revenue was collected transparently in FY-1401 and that we were able to collect more than the predetermined target. The aim for collecting income through customs was 105 billion Afghanis, but we were able to collect (111.5) billion, demonstrating the country›s customs agencies› transparency. Finally, Nasratullah Mahmood, the Treasury›s general director, stated that the FY 1401 budget would be (239) billion Afghanis, divided into a (210.5) billion Afghani regular budget and a (28.5) billion Afghani development budget. In the fiscal year 1401, the General Directorate of Treasury spent 184.5 billion Afghanis, spent 10.7 billion Afghanis on development, and covered a budget deficit of 43.7 billion Afghanis.




هدايت الله (هدايت)

د بلـخ د ګمـرک رياسـت مسـولين وايـي؛ تېـر کال د حيرتـان بنـدر د صادراتـو او وارداتـو لـه لارې نـږدې ۱۲ ميليـارده افغانـۍ عوايـد راټـول شـوي، چـې د وړم کال پـه پرتلـه ۴ ميليـارده او ۴۱۹ ميليونـه افغانـۍ زيـات دي.

Ministry of Industry & Commerce AFG

ارقـام مقايسـوی صـادرات کالاهـای افغانسـتان طـی سـه سـال گذشـته نشـان می‌دهـد کـه ا.ا.ا در سياسـت خارجی-تجـاری خـود موفـق بـوده، اعتمـاد منطقـه‌ی را تحکيـم و روابـط تجـاری مسـتقل و عادلانـه را پايگـذاری نمـوده اسـت. باتوجـه بـه سياسـت موجـود در عرصـه تجـارت، گـراف صـارات در سال‌های آينـده نيز سـير صعودی خواهد داشـت.

مرکز رسانه ها - د رسنيو مرکز

وزارت ماليـه: در سـال ۱۴۰۱، بودجـه عـادی و انکشـافی ايـن وزارت بالـغ بـه ۲۳۹ ميليـارد و ۰۳۷ ميليـون و ۳۱۴ هـزار و ۷۴۹ افغانـی بـوده کـه از ايـن ميـان ۸۱.۶۸ در صـد بـه مـصرف رسـيده و ايـن وزارت بـا رعايـت اصـل پـس انـداز، از ۴۳ ميليـارد و ۷۸۹ ميليـون و ۱۵۵ هـزار و ۵۷۵ افغانـی کـسر بودجـوی، جلوگيـری کـرده اسـت.


د شـتمنی اوونيـزه د ټولـو قدرمنـو لوسـتونکو د مقالـو منونکـې ده؛ مقالـې بايـد اقتصـادي او د ماليـې وزارت سره سـمي وي. لـه ټولـو درنـو همکارانـو او د هيـواد لـه ليکوالـو هيلـه کـوو، چـې خپلـې مقالـې د دغـه برېښناليک magazine@mof.gov.af لـه لارې مـوږ تـه راواسـتوي.